**پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل) .**

**-------------------------------**

# تو لعنت دی پرتا ختک اوپرتا بګتی وی

ما داسی نه ګڼل چی دډیورند دفرضی اود تحمیلی کرښی په هغه غاړه کی پښتنا نه دومره بی غیرت ، بی همت ،لاس پوڅی ،چوپړ و ډارن ، خودفروش ذلیل اووسی چی دیوی مړی ډوډی اویا دیوی مقام دلاسته راوړلودپاره دپنجابی شادی یا زو انګریز صفتو اوبیا د سرتاج عزیز دا دایری د منډی حرام زاده او مخکی له وخته زیږ کوچنی ته خپل سر ټیت کړی او خپل پښتونولی ته په سپک نظر وګوری او خپل پناه راوړنکی افغا نی ورونه چی د هغوی سره یی وینه – جومات – دین – فرهنګ – دودونه – رواجونه او ....سره شریک او یوشان دی هغوی ته په **سپک نظر وګوری اوبیا د پنجا بیا نو دخوش خدمتی د پاره اعلان وکړی چی که چیری افغانی ګډوال د هغو دعلاقو څخه ونه ووځی مونږ به په زوره هغوی له خپل منطقی څخه به وباسو – کاشکی خوشحال خان او احمد شاه بابا ژوندی وای چی د تاسو نا ولو اودتاسو سپک سرو مخونه تور کړی وایی** – ولی نه شرمیږی چی د ځپل زرین تاریخ او دخپل دنیکونو او پلرونودغیرت اودهمت ځلانده تاریخ دځو پنجابی انګریزی حرامزاده ګا نو دګټو د خوندی سا تلو د پا ره په اوبوکی سره لا هو کوي- آیا پرتاسو باندی همغه پنجابی واکمنان نه راخاندی چی ګوره دا بغیرت ځنی ځنی پښتنو اوبلوچانو ته چی دیوی وړه مقام په لرلو سره زمونږ نوکری کوی - دلته دپاچا خان خدای بښلی هغه د سترګو حال قصه می په یاد راغی او هغه داچی یوه ورځ مازدیګری تقریباً (۴۰) کاله دمخه په جلا ل آباد کی د پا چاخان دباغ په دیره کی دځو نورو منورو خلکو سره نا ست اوم چي په دی وخت کی یوه ډله لیکوالان او خبرنګاران د ډیورند د تحملی کرښی د هغه غاړی څخه دپاچاخان دیری ته راغی او وروسته له روغبړ څخه دپاچاخان د دیری په کټونو کی کیښنا ست - یوه شیبه وروسته پاچا خان پر احمد کاکا باندی غږوکړاوویل احمد خانه دغه خلک څوک دی احمد خان کاکاخان عبدالغفارخان

ته وویل چې دوی دهغه غاړی لیکوالان او خبر نګاران دی – غواړی چې د تاسی سره مرکه اومصاحبه وکړی - کله چې پاچاخان دا خبره واورید نو په ډیر قهر او غضب سره دغه راغلی لیکوالو ته وویل : چې تاسی می همدلته هم نه پریږدی چې آرام اووسم ما د خپل ژوند ښه ورځی د تاسی دآزادی دلاسته راوړلو دپاره په مبارزه کی تیرکړل کلونه کلونه دپنجابیانو په جیلونو کی می ژوند ترسره کړ اود تا سو دپلرونو دکورونو ددروازو ځنځیرونه می وټکول چې آی غیرتمنو پښتنو راځی ځما ملا تینګ کړی ترڅو چې د ستا سو په ملاتړ سره دخپل قوم آزادی تر لاسه کړم اود پښتونو د آزادی بیرق د شمشا د دغره په سر کی ودروم مګر د تاسف ځای دادی چې هغوی ځما ننګه ونکړ اود پیسو اود راشن په اخیستو سره دپنجا بیا نو په چوپړ کی ځا ن وغورځول نو په دی لحاظ سره زه تاسو ته داسی را څرګندوم اوهغه داچې په تاسو کی هم غیرت اوهمت نشته اولکه د خپل پلرونو په شان غواړی چې له موقع څخه ګټه پورته کړی اود پنجا بیا نو د پاره خوش خد متی وکړی تاسی همدا اوس ځما له دیری څخه زر پښی سپکی کړی – رنګ مو ورک شه چې بیا دی خواته را نشي . هوکی د خیبر پښتو نخواه او د بلوچو سرکا ری ځان پلورنکو تاسی څخه حق لری چې ځان ختیک یا بګتی بولی تاسی خو اصلاً نه پښتون یاستی اونه هم بلوخ – تاسی دسرتاج عزیز د دروازی هغه کا سه لیس اوبی همت یا ست چې پرخپل قام باندی ملنډی وهی – ولی تاسی په دی فکر کی نه راولوېږی چې مونږ خو د لته د تاریخ او نام وننګ یو ژوند اوغیرتمن قوم یاستو ولی د خپل آزادی او سرلوړی دپا ره دخبل راغلی افغانی ورونو سره په ګډه د توپک خوله دغه پنجا بی واکمنانو ته نه رااړو . ولی تا سی دتاریخ نه عبرت نه اخلی ایا نن په نړی کی لکه تاسی غوندی بی غیرته قوم شتون لری – المانانو سره یوځای شو ویتنا میا نو سره یو ځای شو تاسی په تاریخ کی هغه یواځنی قوم ویی کوم چې انګریزانو ته موشکست ورکړ اما اوس تاسی دانګریز دنوکرانو نوکر شوی یاست – ما په انترنیت کی د خیبر پښتونخواه اودبلوچی دواکمن بګتی په نامه یو اعلان واورید اوهغه داچې باید افغانی ګډوال زمونږ له سیمی څخه بیرته افغانستان ته ګډه وکړی اوکه چیری ګډه ونکړی نو مونږ دغه ګډوال په زوره له خپل سیم څخه شړو واوا واوا څه شو ستاسی پښتونولی - څه شو ستاسو ملیمه پالنی - نو دلته بی ځایه نه

ښکاری چی تا سی ته  د پنجا بیانو نوکران او لاس پوڅی  ونه   ګنو – په اخر کی داسی  وایم  چی هیڅ  یوقدرت   نشی کولای چی د دیورند د فرضی کرښی دی غاړی اودهغه غاړی پښتا نه سره بیل کړی – هغه  ورځ لیری  نه ښکاری کوم چی د غه فرضی کرښه  له مینځه لاړنشی او دکرښی دواړه غاړی پښتا نه سره  یوځای نشی لکه هغسی چی وایی اوبو په ډانګ سره نه بیلړی .

-------------------------------- **په درناوی ۲۰۱۶-۷-۱**